عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۱/۲۳

# یو څو پوښتني

پوښتني مي له ټولو لوستو او پوهو افغانانو څخه دي، خدای دي وکړي چي هیڅوک یې شخصي وانه خلي؛ او خدای دي وکړي، چي که یې څوک په جواب ویلو وارزوی، نو په سړه سینه جواب راکړي. ځکه چي زه له هیڅ افغان او افغاني ډلي سره نه سیاسي دوستي او نه سیاسي دښمني لرم.
په پاکستان کي له زیات وکم دوو کالو مهاجرت تېرولو څخه وروسته مي، اوس په امریکا کي د ژوند څه باندي پنځه دېرش کلونه کېږي. ما په دې ټول عمر کي، له منورو او وطنپالو لیکوالو افغانانو څخه، یوازي دا یوه خبره اورېدلي ده چي خلقیان او پرچمیان باید د محاکمي مېز ته راکش کړل سي او کوم خلقي یا پرچمي چي په جنایاتو کي یې مستقیمه برخه نه وي اخیستي باید چي پر خپله ګناه باندي اعتراف وکړي، د افغان اولس څخه بخښنه وغواړي او بیا نو په افغاني ټولنه کي د اوسېدلو ورتیا او حق پیدا کړي.
په دې کي هیڅ شک نسته چي د خلقیانو او پرچمیانو د حکومتونو په وخت کي، په تېره بیا د قدرت په لومړیو پنځو شپږو کلونو کي، له افغانانو سره ډېري زیاتي جفاوي وسولې. په ناحقه بندیان سول، شکنجه سول، ووژل سول او له وطن څخه مهاجرت کولو او تېښتېدلو ته مجبور کړه سول. زه ګومان نه کوم چي، د عقل خاوند، خلقي او پرچمي دي هم له دې ترخه حقیقت څخه انکار وکړای سي.
د خلقیانو او پرچمیانو د قدرت د کلونو په پای کي مجاهدین کرام کابل ته ننوتل او په دوو ورځو کي د افغانستان ټول ولایتونه ورته تسلیم سول. مجاهدینو پر کابل باندي د خپل حکومت په څه باندي څلور کلنه دوره کي، د خپل منځي جنګونو په ترڅ کي، د کابل ښار تقریبا په بشپړه توګه تباه کړ. د هغوی په دوره کي کابل د بېلو بېلو ډلو د قدرت پر حوزو وېشل سوی وو او د هیچا مال، سر او ناموس خوندي نه وو. د هغوی د قدرت په لومړی هفته کي د نړی مطبوعاتو رپوټونه خپاره کړل چي مجاهدینو او د هغوی قوماندانانو د کابل په دارلمجانین کي ښځینه لېونیاني په زور بې عزته کړي. عکسونه، ویډیوګاني، کتابونه او عیني شاهدان ټول موجود دي. سړی نه پوهېږي چي هغو مجاهدینو څه داسي کارنامه کړې وه چي سیاف یې اوس هم په نامه افتخار کوي.
زه د ټول افغانستان په وضع له نیژدې خبر نه یم خو د کندهار په ښار کي مجاهدینو د خپل قدرت په څه باندي دوه کلنه دوره کي هغه کارونه او بې ناموسی او بې عفتي وکړې چي د هغه ښار په تاریخ کي یې ساری نه وو لیده سوی. لنډه دا چي هغه کارونه یې وکړل چي د قلم ژبه یې له بیان څخه عاجزه ده.
د مجاهدینو له حکومت څخه وروسته طالبان راغلل. د هغوی د بې ناموسیو او بې عفتیو په باره کي چا هیڅ نه دي ویلي خو پر خلکو یې بې حده زیات ظلمونه وکړل او د قدرت د کلونو دوره یې ډېره تاریکه وه. اوس که څوک ښه ورته وایی نو یوازي د ښه امنیت ټینګولو صفت یې کوي.
د طالبانو له بدي طالع، یو وخت امریکا او د ناټو متحدینو، په امریکا کي د سپتمبر د یوولسمي د پېښو او په افغانستان کي د دې پېښو د مرتکب أسامه بن لادن د اوسېدلو په پلمه، پر افغانستان باندي هوایي او ځمکنی یرغل وکړ. د یوي شپږي لپاره یې غونډ پوستین اورته واچاوه. د طالبانو نظام یې نسکور کړ او، په اصطلاح، د انساني عدالت نوی ډیموکراتیک نظام یې قایم کړ. د دې نظام له برکته، افغانستان، په خپل تاریخ کي د لومړي ځل لپاره، د مخدره موادو په تولید او قاچاق او اداري فساد کي لومړی مقام وګاټه. او دا مقام یې، د مرکزي حکومت او امریکا د ګډو هلو ځلو او ابتکارونو له امله، تر اوسه ساتلی دی. په دې نظام کي، چي یوازي د امریکا د ډالرو د باران له برکته ژوندی دی، بې امنیتي، بې ثباتي، قومي تعصبات او اختلافات، او پر سر اومال او ناموس باندي تېری ورځ تر بلي زیات سوی دی. او پرته له غلو، قاتلانو او داړه مارانو، چي د قدرت واګي یې په لاس کي دي، هیڅ یوه چا د خیر مخ نه دی لیدلی. د افغانستان په تاریخ کي د لومړي ځل لپاره، د اولسي جرګي وکیلانو د افغانستان له نامه سره د مخالفت ځرګندولو جرأت وکړ او د اولسي جرګي ځینو وکیلانو په زغرده او افتخار وویل چي دوی افغانان نه بلکه د افغانستان اوسېدونکي دي. البته د افغانستان د نامه د بدلولو په برخه کي په هیڅ توګه خپل نظر نه پټوي. د امریکا د کېښنولي حکومت څخه مخکي چي هر څه تېر سوي دي هغه به وي خو د ملي هویت سره د خیانت کولو، د فدرالي حکومت( چي وروستی نتیجه به یې بشپړه تجزیه وي) ږغ پورته کولو جرأت چا نه وو کړی. ګواکي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

سړی ویلای سي چي دا وروستی دوره، که څه هم چي د بلندمنزلونو او په اکثریت ولایتونو کي د پوهنتونونو درلودلو سره سره، په ملي او معنوي لحاظ تر ټولو بده دوره ده، چي ګټه یې یوازي مسلکي غلو او داړه مارانو ته ورسېده. زه نه پوهېږم چي له سیاف، حکمتیار، د جمعیت اسلامي له قوماندانانو، محقق او... څخه چا دا پوښتنه ولي نه ده کړې چي دوی ته چا د کابل د ورانولو او، د ځینو احصاییو له مخي، د اویا زرو بېګناه انسانانو د قتلولو اجازه ورکړې وه؟ داسي خو به نه وي چي مجاهدینو د خلکو د قتلولو، د کابل د ښار د ورانولو، د شته منیو، وسلو، تاریخي آثارو او میوزیمونو د چوړولو او خلکو پر عصمت او ناموس باندي د تېري کولولایسنس درلود او خلقیانو او پرچمیانو بې لایسنسه قتلونه کړي وي؟
ما چنداني له چا څخه د کابل د پلچرخي د بندیخانې او یا د هیواد د نورو رسمي او غیررسمي او شخصي بندیخانو په باب څه نه دي اورېدلي. هیڅوک دا نه وایي، او نه په دې باب تحقیق کوي، چي د افغانستان په ولایاتو، لویو او کوچنیو ښارونو، اولسوالیو او حتی کلیو کي څه تیریږي او دا دونه خپل سري قوماندانان، چي څوک د چا د سر اومال بازخواست نه سي ورڅخه کولای، څه کوي؟ دغه ګړی په ټول افغانستان کي داسي اولسوالي نسته چي په هغې کي یو خپل سری سرجلاد، چي هر یو یې د زرداد، شجاعي، علیپور او... په سویه دی پاچهي نه کوي او چي څه یې زړه غواړي هغه کوي. دا پوښتنه چا کړې ده چي د کندهار، ننګرهار، هلمند، فاریاب، بلخ، بامیان واک د چا په لاس کي دی او اداره یې څرنګه چلېږي. او یا لږترلږه دا وضع به تر کومه دوام کوي. د افغانستان په سلو کي لس انسانان، چي په سلو کي نیوي یې ځوانان دي، په مخدره موادو معتاد دي. په دې حساب، په افغانستان کي په مخدره موادو د معتادو کسانو شمېر، چي د لومړي ځل لپاره ښځي هم پکښی شاملي سوي دي، زیات و کم دریو میلیونو انسانانو ته رسېږي. د بېکاری او دربدری خو حساب نه کېږي. دا په سل هاوو میلیارډه، له خارجه راغلي، ډالر پر کومه ولاړل؟
داسي خو به نه وي چي، خدای مه کړه خدای مه کړه، دونه بې زړه او ډارن سوي یو چي د ژوندیو بلاوو او د قدرت پر ګدئ ناستو داړه مارانو او قاتلانو څخه وېرېدلي یو؛ هسي نه چي وطن ته د تللو لاره راباندي بنده نه کړي. او یا د کوم په خوب لیدلي امتیاز په تمه یو؛ هسي نه چي د یوې لیکني یا یوې ریښتیا خبري په ګناه د کلونو خیال پلو را تباه کړي او په خوب لیدلي امتیازات را څخه واخلي. په مقابل کي خلقیان او پرچمیان، اوس بې وسه خلک دي او موږ ته هیڅ تاوان نه سي رسولای. هغوی که بیا قدرت ته رسېږي نو هغه به زموږ د کړوسیانو زمانه وي او، موږ خو څه کوې چي، په هغه وخت کي به، زموږ د زامنو قبرونه هم له خلکو څخه هېروي.
تاسي ماته اجازه راکړی؛ زما مطلب بل دی. د یوې لحظې لپاره به دا ومنو چي مجاهدین کرام خو زموږ وروڼه دي موږ هغوی ته څه ووایو؟ هغوی که هر څومره خلک بې ګناه قتل کړي وي نو دا حتما په خطا کي وژل سوي دي؛ ځکه چي هیڅ مسلمان، په تېره بیا یو مجاهد، د خپل مسلمان ورور وینې نه تویوي. هغوی که غلامي او جاسوسي کړې ده نو هم یې د خپل مسلمان ورور پاکستان، اېران او سعودي عربستان غلامي کړې ده او دا چنداني عیب نه دی. په مقابل کي خلقیانو قصداً او په لوی لاس خلک وژلي او د روس په څېر ملحد هیواد نوکري یې کوله. اوس ستونزه دا ده چي موږ په خارج کي وطن پالونکي منورین خو د خلقیانو او پرچمیانو د محاکمه کولو زور او توان نه لرو او په هغوی کي هم دونه انصاف نسته چي په خپله خوښه محاکمې ته حاضر سي او یا پر کړو ګناهونو باندي اعتراف وکړي او بخښنه وغواړي. دا واک او صلاحیت، په افغانستان کي، داخله وزارت، پارلمان، استخبارات، څارنوالي او هرڅه خو د ډیموکراسی پر اصولو جوړ سوي، اوسني اسلامي نظام سره دی. که دا حکومت او د هغه ادارې د قاتل، غاصب او داړه مار مخه نیولای سي او نه یې نیسي نو دا خو، د حقوقو د ټولو قوامیسو او کتابونو په حکم، د قاتل او فتنه ګر ملګری دی، او باید چي له هغه څخه خپل حق وغوښتل سي. په داسي حال کي چي د اوسني اسلامي نظام د ټینګېدلو، زیات وکم، اته لس کاله تېر سوي دي خو هیڅ واکمن د وړوکي او لوی خلقي او پرچمي څخه پوښتنه قدرنه ده کړې. خلقیان او پرچمیان په پارلمان کي غړیتوب لري، په حکومت کي وزیران، د دفاع او داخله چارو په وزارتونو کي جنرالان او کارکونکي لري. جایدادونه لري، کاروبار لري او په وطن کي سرې سترګي ګرځي؛ زموږ یې په خارج کي په چیغو ستوني را شنه کړل. د افغانستان د اسلامي حکومت پخواني جمهورریس حامد کرزي، د خپل واک په لومړیو شپو ورځو کي، یوه عمومي عفو اعلان کړه او د ټولو وینې یې ټولو ته وبخښلې. هیچا هیڅ ونه ویل. یوازي ملالۍ جویا، د میوند د ملالي په څېر چیغه پورته کړه او په لوړ آواز یې وویل چي د دې رهبرانو ځای لویه جرګه او د هیواد شورا نه بلکه د څارویو طویله ده. د جرګې رییس صبغت الله مجددي، چي دوستم ته یې د خالدبن ولید لقب ورکړی وو، له خپل مذهبي صلاحیت څخه استفاده وکړه؛ او د ملالۍ جویا د کفر فتوا یې صادره کړه. د دې زړه وري پېغلي رسا ږغ به مي تر قیامته په غوږ کي آزانګه کوي. هغې په خپل دې رسا ږغ سره د ټولو شمله ورو افغانانو شملې ټیټي کړې، ځکه چي هیڅ نارینه یې دفاع ونه کړه.
که موږ افغانان پر چا باندي د وینو پور لرو نو د پور اخیستلو دا حق خو د افغانستان اوسني حکومت، چي هم نظامي زور او هم قانوني صلاحیت ورسره دی، بخښلی دی. موږ که خپل حق غواړو نو باید چي د افغانستان له حکومت څخه یې وغواړو او که یې له معلوم مدعي څخه نه سو غوښتلای، او یا یې د غوښتلو جرأت نه لرو، نو دا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

به بهتره وي چي، د ښځايه چيغو پر ځای، د يوې بلي لاري په فکر کي سو. ځکه چي موږ که ريښتيا هم خپل حق غوښتلای نو بايد چي په هغه وخت کي مو د افغانستان او اروپا په ښارونو کي مظاهرې کړي وای. حکومت څه حق لري چي زموږ وينې په خپل سر بخښي.

راسی د خلقيانو او پرچميانو محاکمه، چي اوس يې موږ واک او صلاحيت هم نه لرو، خپل وخت ته پرېږدو. اوس بايد له هغه چا سره حساب وکړو چي په خپل صلاحيت او خپله خوښه يې، په منتهی سخاوت، زموږ د هيواد د زيات وکم يو لک انسانانو ويني بخښلي دي او دغه کړی لا نورو وينو بهېدلو او وطن تباه کېدلو ته لاس تر زني ناست دي او موږ او وطن ته عملي تاوان رسوي. او که مو دا په وس نه وي پوره او بيرته خپله زړه خبره کوی نو بيا ستاسي خوښه. که شپه تياره ده منې په شمار دي.

زه له خپلو افغانو خويندو او ورونو سره يوه بله پوښتنه، چي ښايي اهميت به يې تر دي زيات، او يا لږترلږه کم نه وي، وي مطرح کوم. څه باندي دوه کاله پخوا، د کابل په ارگ کي، د اولسمشراشرف غني ، د کابينې له پنځو شپږو وزيرانو او د اولسي جرگي د زيات وکم څلوېښتو وکيلانو سره په يوه ماښامنۍ غونډه کي ناست وم. د هيواد پر امنيتي چارو او ځينو مهمو موضوعاتو باندي د خبرو په ترڅ کي ، د ننگرهار د ولايت يوه وکيل له اولسمشر څخه پوښتنه وکړه چي موږ له هند سره په دوستي کي ډېره لږه گټه کوو خو له پاکستان سره د دښمنۍ له امله، زموږ تاجرانو، دوکاندارانو، غريب کارانو، زميندارانو او بزگرانو ته، هر کال په ميليارډونو افغانی تاوان رسېږي. دا لږه گټه او دا ډېرتاوان به تر کله دوام لري؟ د کامي وکيل هم بې نوبته او هم له موضوع دباندي خبري کړي وې ځکه يي هيڅ جواب تر لاسه نه کړ.

زه يقين لرم چي دا خبره به ټول خلک راسره ومني چي د ډيورنډ کرښه په نړۍ کي له تر ټولو ظالمانه سرحدي پولو څخه ده او يا لا ښايي د نړۍ تر ټولو ظالمانه پوله وي. له پاکستان سره همدغه د ډيورنډ د پولي پر سر اختلاف دی چي د افغانستان په خارجي سياست او له گاونډي هيواد پاکستان سره په اړيکو کي د ناصور زخم ورڅخه جوړ سوی دی. زموږ شاعرانو د شعرونو په جوړولو او ليکوالانو او پوهانو مو د مضامينو او کتابونو په ليکلو ځانونه ستړي کړي دي؛ مگر کومه گټه يې نه ده کړې. د پخوانيو حکومتونو خبره به پرېږدو. د محمدزيو حکومتونو او د خلقيانو او پرچميانو رژيم، په کال کي يو ځل، لږ ترلږه د پښتونستان ورځ درلوده او د پښتو نستان ترانې يي ويلې. د مجاهدين کرام له حکومت څخه بيا تر اوسه پوري دا ورځ او ترانې هم له منځه تللي او هيري سوي دي. هغه پخوا چي به مو له آمو تر اباسينه تشې د خولې لاپې کولې هغه هم ختمې سوې.

د پاکستان حکومت خو، په خپله خوښه، د ډيورنډ د کرښي ورانولو ته غاړه نه ايږدي. په وروستيو شپو ورځو کي يې پر دې پوله باندي د اغزن سيم د کښولو او کټارې د جوړولو کار، چي ويل کېږي په ځينو ځايونو کي يې د افغانستان خاوره لا هم لاندي کړې ده، ښه ثبوت دی. ما ته، زيات و کم درې کاله مخکي، د افغانستان پخواني جمهورريس حامدکرزي، د يوې مختصرې ماښامنۍ په ترڅ کي، د مرحوم قوماندان عبدالرازق او اوسني د دفاع وزير اسدالله خالد په مخ کي وويل چي د ده لپاره د افغانستان سرحد اټک دی. که خبره ريښتيا هم داسي وي چي زموږ د اولسمشرانو او سياسي رهبرانو لپاره د ډيورنډ کرښه د منلو نه وي، نو حکومتونو په دې باره کي څه سياسي اقدامات کړي دي. زه وايم که نور هيڅ نه وای نو دا موضوع خو يې بايد چي په ملگرو ملتونو کي توده ساتلې وای. که يې چيري کوم سياسي گام پورته کړی او نتيجه يې نه ده ورکړي نو بايد چي خپل اولس او هيواد ته ريپوټ ورکړي. حکومتونو په دومره مهمه سياسي مسله کي، چي د افغانستان اولسونو ته هره ورځ مالي، سياسي او بشري تاوانونه رسوي، ولي خپل هيواد په تياره کي پرې ايښی دی؟ زموږ منورين ولي دومره لويه ملی داعيه له خپل حکومت سره، چي د هغې د تعقيبولو ټول سياسي او قانوني واک ورسره دی، نه مطرح کوي. البته دا يوه اوږده او لانجمنه سياسي مسله ده چي که د افغانستان کوم حکومت په بشپړه ايمانداري ملا هم ورته وتړي په شل کاله کي يې نه سي حلولای. دا موضوع به، د يوې پېچلي ملي ستونزي په حيث، دغه کړی، خپل وخت ته پرېږدو.

ما له خپل يوه دوست سره په ټلفون کي خبري کولې او هغه ته مي وويل چي که اوس يو څوک د زردشت، بودا، ويدي سرودونو، مقدوني سکندر، آريايانو او... په باره کي مضمون وليکي او کومه وړه يا لويه اشتباه ورڅخه وسي نو په يوه ورځ به لس پوهان او عالمان، لکه ماران، په يوه سلا، سرونه راپورته کړي او پر معتبرو او غير معتبرو کتابونو به حوالې ورکړي او ليکوال به په ځان پوري حيران کړي. مگرنن چي افغانستان د خپل تاريخ په تر ټولو سختو شرايطو او تر ټولو سخت سياسي بحران کي قرار لري او له وړو کليو څخه تر لويو ښارونو پوري د غلو او جنايتکارانو تر منځ وېشل شوی دی، زموږ ليکوالان او پوهان، له بده مرغه، په داسي موضوعاتو لگيا دي چي، په اصطلاح، دوه توته ارزښت نه لري.

تر دې به لا د شرم خبره چيري وي چي دغه کړی په هيواد کي د جمهوري رياست لپاره اووه لس تنه، يا ټيمونه، کانديد دي او زموږ خلک، په تېره بيا منورين او ليکوالان، د بدترين، بدتر او بد ترمنځ په انتخاب کي لالهانده دي. هيڅوک په پوره زړه او وازه خوله نه سي ويلای چي دغه يا هغه کانديد او دغه يا هغه ټيم د انتخاب وړدی. که څوک د سياسي بحران په تعريف کي تلولی وي نو زموږ د هيواد اوسنی حالت يې ښه مُعرّف دی. د ميدان ښاروروستي غمجنه پېښه، چي د افغانستان په دې اووه لس کلن اشغال کي، په يوه حمله کي، تر ټولو زيات پوځي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

تلفات وه، د نويو بدمرغو او ويرژلو پېښو پيلامه ده. خبري آژانسونه د تلفاتو شمېر تر يوسل او پنځه ويشت او طالبان يې تر يوسل نيوي پوري بولي. دا ويرژلي پيښي به همداسي دوام لري او د داړه مارانو او غاصبينود يوې ډلي پر ځای به بله ډله راځي او موږ به تر قيامته ورته ګورو. ځکه چي خلک ښايي بالاخره د داړه مارانو او د خارجي قدرتونو له نوکرانو سره عادت ونيسي او خپل حق يې وبولي. که څوک د حقيقت په پټولو کي د امتيازاتو خوبونه ويني نو هسي په ګوډه ويلو خوله مه خوږوی. که په حقيقت ويلو څه جوړه وي نو دغه يې وخت دی. زه له خپلو منورو خويندو او ورونو څخه هيله لرم چي پر دې حياتي موضوعاتوباندي په سړه سينه بحثونه وکړي.
والسلام


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ